Pashto Version

# د کډوالو لپاره سرچیني


## په متحده ایالتو کې بیا پر ځای کېدل؟

کله چې تاسو په متحده ایالتو کې د بیا پر ځای کېدلو لپاره چمتو یاست، د زده کولو لپاره ډېر څه شتون لري.
کله چې تاسو خپل نوې ژوند پیل کړئ، دلته لس مهم پیغامونه دي د پوهې لپاره:



**1** یو څوک به تاسو سره په هوایي ډګر کې ستاسو په وروستي منزل کې ویني. د روانېدو نه مخکې، تاسو به د یو لیکلي شوې ژمنې تادیې ورکولو په سند باندې لاسلیک وکړئ چیرې چې تاسو متحده ایالاتو ته د خپلې الوتنې لګښت بیرته ورکولو ژمنه کوئ.


**2** کله چې تاسو متحده ایالتو ته لاړ شې، دا عادي خبره ده چې د کلتور ټکان تجربه کړئ او له ننګونو سره مخ شئ. ستاسو په پر ځای کېدو کې د مرستې لپاره، ډاډ ترلاسه کړئ چې انګلیسي زده کړئ، له نویو خلکو سره ووینئ، او خپله نوې ټولنه وپلټوئ.




**3** د بیا پر ځای کېدو ځایی اداره به ستاسو لومړني اړتیاوې پوره کولو لپاره لومړني خدمتونه چمتو کړي او تاسو به د وړتیا پراساس اضافي خدماتو ته راجع کړئ. د بیا پر ځای کېدو کارمندانو سره د مثبت اړیکو په رامینځته کولو سره د خپل وخت ډیره ګټه واخلئ.



**4** عامه مرستې محدودې دي، او مالتړ ستاسو په ځای او د کورنۍ د اندازې پر بنسټ توپیر لري. خپلې ګټې د نورو خلکو له ګټو سره مه پرتله کوئ، ځکه چې دوی به یو شان نه وي.



5 کله چې تاسو متحده ایالاتو ته راورسیږئ، تاسو به کور ولرئ. دا به د یو اوسیدو ځای په څیر وي او کېدی شي ستاسو غوره انتخاب نه وي، مګر دا به پاک، ارزانه او خوندي وي. د کور لګښتونه به ستاسو د میاشتني لګښتونو لویه برخه وي.



6 په متحده ایالاتو کې د ژوند لګښت خورا لوړ دی ، نو د ځان بسیا کیدو ترټولو ګړندی لاره کار دی. تاسو ته وړاندیز شوی لومړی دنده ترسره کول مهم دي، حتی که دا ربنتیا ستاسو په غوره شوي مسلک کې نه وي.




7 په بیړني حالت کې د مرستې ترلاسه کولو لپاره، په تلیفون کې 911 ډایل کړئ او چلونکي ته وواياست چې تاسو څه ته اړتیا لرئ ("قانوني ساتونکي،" (Police) ("د اور وژلو موټر" Fire)  ("د ناروغانو موټر" Ambulance) او ستاسو پته یا ځای.



8 په متحده ایالاتو کې، قوانین د ټولو خلکو حقونه خوندي کوي. تاسو باید قوانین زده کړئ او تعقیب به یې کړئ. په قانون نه پوهېدل تاسو ته د سزا ورکولو مخه نه نیسي که تاسو قانون مات کړئ.



9 په متحده ایالاتو کې د روغتیا پاملرنې سیسټم پیچلی دی. د لومړیو 12 میاشتو لپاره، تاسو به د روغتیا بیمې پوښښ ولرئ. د بیا پر ځای کېدو کارمندان کولی شي د پوښتنو په ځوابولو او اضافي معلوماتو چمتو کولو کې مرسته وکړي.



10 خپل شخصي پیژندل شوي معلومات خوندي کړئ، لکه ستاسو د IOM اسناد، پاسپورټونه، د بانکي حساب شمیره، او د ټولنیز امنیت شمیره. تل محتاط اوسئ که چیرې وپوښتل شي چې محرم معلومات په شخصي یا آنلاین توګه شریک کړئ.



## نورې پوښتنې لرئ؟ په Settle In کې نور زده کړئ

**Settle In** په متحده ایالاتو کې د بیا پر ځای کېدو په اړه د باوري او کره معلوماتو موندلو لپاره ستاسو ترټولو غوره ځای دی.**Settle In** په څو ژبو کې شتون لري او په متحده ایالاتو کې د ژوند په اړه مختلف موضوعاتو کې ویډیوګانې، پوډکاسټونه او نورې سرچینې چمتو کوي.

**settleinus.org** ته مراجعه وکړئ

SettleIn

CORE Cultural Orientation Resource Exchange

INTERNATIONAL RESCUE COMMITTEE

The contents of this fact sheet were developed under an agreement financed by the Bureau of Population, Refugees, and Migration, United States Department of State, but do not necessarily represent the policy of that agency and should not assume endorsement by the Federal Government. **This material is in the public domain and may be reproduced.**